# لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا، وَلَا تَجْعَلُوا قَبْرِي عِيدًا، وَصَلُّوا عَلَيَّ؛ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي حَيْثُ كُنْتُمْ». «خپل كورونه مو مقبرې مه ګرځوئ او زما قبر د عبادت ځای مه جوړوئ، او پر ما درود ووايئ، يقينا تاسو چې هر چېرې ياست ستاسو درود ماته رسيږي

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايې چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا، وَلَا تَجْعَلُوا قَبْرِي عِيدًا، وَصَلُّوا عَلَيَّ؛ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي حَيْثُ كُنْتُمْ». «خپل كورونه مو مقبرې مه ګرځوئ او زما قبر د عبادت ځای مه جوړوئ، او پر ما درود ووايئ، يقينا تاسو چې هر چېرې ياست ستاسو درود ماته رسيږي».

[حسن] [ابوداود روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم منع فرمايلې ده چې كورونه دې له لمونځونو څخه فارغ شي، كه داسې وشي نو حال به يې د هغه مقبرو په څېر وي چې لمونځ پكې نه كيږي. او په تکراري ډول يې د قبرونو له زيارت او تر څنګه يې له راټولېدو څخه منع فرمايلې ده، ځكه چې دا د شرک لپاره وسيله ګرځي. او د ځمكې په هر ځای كې يې پر هغه د سلام او درود ويلو امر کړی دی؛ ځكه چې له نږدې او لرې ځای څخه يو برابر ورته رسيږي، نو لدې امله يې بار بار قبر ته د ورتلو اړتيا نه ليدل كيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3350

النجاة الخيرية ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية EDC E-Da'wah Committee